مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پوهنمل دکتوراندوس رحمت خُواکمن

۲۰۲۴/۰۹/۰۴

# د دولت او وګړو تر منځ د تولنیز تړون ارزښت

د یوه هیواد اغیزمنه پرمختیا د دولت او وګړو یا ولس ترمنځ له یوه پیاوړي تړون یا قرارداد سره اړیکه لري.
هیڅ هیواد له سولې، امنیت او ثبات پرته وده نه شي کولای او پرمخ نه شي تللای.
په یوه هیواد کې د پرمختیا د ممکن کولو لپاره له یوې خوا یوه داسې فعال دولت او بنسټونو ته اړتیا ده چې، د امنیت ټینګښت، د بشري حقونو ورکړې او ولسواکۍ ته ژمن وي او له بلې خوا یو داسې ویښ، لوستي، فعال او وطنپال ولس یا ټولنه په کار ده چې، د هیواد په پرمختګ کې رول ولوبوي.
دولتونه د خپل هیواد د پولو او ځمکنۍ بشپړتیا د ساتلو، امنیت او ثبات ټینګولو تر څنګ نورې ډیرې مهمې دندې هم لري. دولتونه اړ دي چې د خپلو وګړو د روغتیا، زده کړو، روزنې، پالنې او لومړنیو اړتیاوو د پوره کولو لپاره لازمي مالي سرچینې هم ولري.
زیاتره بیوزلي هیوادونه د خپلو وګړو د اړتیاوو د پوره کولو لپاره لازمي مالي اسانتیاوې او اړینې سرچینې نه لري.
له همدې امله په نړۍ کې د شتمن او بې وزلي د واټن د راکمولو لپاره، نړیوال سازمانونه دنده لري چې له بې وزلو سیمو او وګړو سره مرستې وکړي.
دا چې د بې وزلو هیوادونو په وروسته پاته والي کې کومو عواملو رول لوبولي دی، فقیر یا بې وزلي چاته ویل کیږي او اوس فقر او بې وزلي په نړۍ کې څرنګه او څېرۍ ده؟ پر دې به وروسته خبرې وکړم ، خو اوس بیرته د یوه هیواد د پرمختیا لپار د دولت او وګړو ټولنیز قرارداد یا تړون ته ورګرځم.
د دولت پر دندو او مسؤلیتونو سربیره ، د دې تړون بل اړخ د یوه هیواد وګړي، اتباع یا ښاروندان دي.
تاسې د یوه هیواد د پرمختیا لپاره، د مسؤل او فعال دولت تر څنګ فعالو وګړو ته هم اړتیا لرئ، چې وکولای شي خپل حقوق و پیژني او و یې غواړي، د خپلو دولتي او حکومتي مشرانو په ټاکنه کې مسؤلانه برخه واخلي ، همدارنګه له خپلو استازو او ټاکل شویو مشرانو بیرته د ځواب ویلو غوښتنه وکړي او کړنې یې وڅاري.
هر څومره چې د یوه دولت او وګړو ترمنځ یې، ټولنیز قرارداد یا تړون غښتلي او پیاوړې وي، په هماغه اندازه یو هیواد زیات او غوره پرمختګ کولای شي.
په کوم هیواد کې چې دا ټولنیز قرارداد نه وي، یا سم عمل ونه کړي او کمزورۍ وي، هلته سخته بې وزلي، بې عدالتي، نابرابري، بې ثباتي او نا امني پیښیږي.
که د ساري په توګه په نړۍ کې د لوږې او بیوزلۍ ځنې عوامل راوسپړو نو پوه به شو چې، د یو هیواد په بې وزلۍ کې د نورو عواملو تر څنګ ناکاره او ناوړه دولتونه هم خپل رول لوبوي.
که پوښتنه وکړو چې ایا بې وزلي د فاسدو دولتونو ګناه ده؟
نو ویلای شو چې، دا د یوه دولت دنده ده تر څو خپلو وګړو ته داډ ورکړي چې، دوی به لوږې او بې وزلۍ ته نه پریږدي او ورته به ټولنیز خدمتونه ترسره کوي .
خو که چیرې کوم دولت ناکاره او بیکاره وي او هیڅ کار ونکړي او یا لکه زموږ د تیر شل کلن جمهوریت په څېر فاسد وي، زیاتره سیاستوال او کارکوونکي یې یوازې د خپلو شخصي ګټو او شتمنیو په فکر کې وي نو بیا هرو مرو د ټولنې وګړي د بې وزلۍ، نا امنۍ، بې ثباتي او ناکرارۍ سره مخ کیږي.
په ډیرو افریقایي هیوادونو کې دا ډول فاسد حکومتونه او دولتونه واکمن دي چې ګڼ شمیر وګړي یې له لوږې او بې وزلۍ سره مخ دي.
ډیر پر مختللي هیوادونه او نور نړیوال بشري سازمانونه هم بیا په داسې فاسدو حکومتونو تکیه نه کوي او خپلې بشري مرستې د موسسو او اینجوګانو له لیارې سرته رسوي.
خو دا ډول مرستې چې په یوه هیواد کې اړوندو حکومتي ادارو ته نه ورکول کیږي، بیا نو په حقیقت کې مرستندوی سازمانونه او موسسې د دولت رول ترسره کوي او نور هم د همغو حکومتونو کمزورۍ او بې کفایتۍ ته لاره هواره وي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په څیر و لولئ

د ساري په توګه په هایتي کې په سلو کې اتیا ښوونځي د مرستندویو سازمانونو تر لاس لاندې دي او دا په دې معنا ده چې هلته د ښوونې او روزنې وزارت پر زده کړو ډېر لږ کنترول او اغېز لري.
په دې هکله د سومالیې ولسمشر حسن شیخ محمد، یوه عجبه خبره کړې ده او د نړیوالو مرستو ټولنې ته یې ویلي دي چې:
" هو موږ ناتوانه یو، هو موږ فاسد یو، هو ډېره قانون ماتونه او له قانونه سرغړونه شته، خو دلته یوازې د سومالیې یو دولت شته چې که له موږ سره د یوه دولت په څېر چلند و نه کړئ، موږ به هېڅکله هم یو دولت نه شو"
که بله پوښتنه وکړو چې آیا د لویدیځ پرمختللي پانګوال هیوادونه هم په نړۍ کې د بېوزلۍ یو عامل کېدلای شي؟
نو ځواب به هو وي، ځکه همدغه ښکیلاګر او استعماري هیوادونه وو چې، لسګونه کلونه یې په مریتوب، د مستعمره هیوادونو د شتمنیو او خامو توکیو په غلا او په نابرابرو سوداګریزو تړونونو سره، د همدې وروسته پاته او بې وزلو هیوادونو په بې وزلۍ کې لاس درلود.
باید اوس خپلې تېرې استعماري کړنې جبران او په نړۍ کې د بېوزلۍ په له منځه وړلو کې صادقانه او بنسټیزه پرمختیايي مرسته وکړي. خو دریغا چې اوس هم نیوکلونیالیزم یا نوی ښکیلاک په نوې بڼه دوام لري او په نړۍ کې زیاتره مالي سیستمونه او سوداګریز تړونونه د پرمختللو هیوادونو استثمار او ناروا ګټو ته لاره هواروي .
که پر همدې فقر او بېوزلۍ نور هم تم شو، نو ویلای شو چې په ۱۸۲۰ کال کې د نړۍ په سلو کې ۸۴ وګړو په لوږه او بې وزلۍ کې ژوند کاوه. په ۱۹۸۱ کې دا شمیر په سلو کې ۴۴ ته راټیټ شو. تیر کال د بې وزلۍ یا فقر دا فیصدي په لومړي ځل په سلو کې له لسو ټیټه شوه.
دې ته په پام سره چې د نړۍ وګړي په همدې موده کې ۷ ځله زیات شوي هم دي. له صنعتي انقلاب وروسته د نړۍ وګړو د ژوندانه ډېرې اسانتیاوې ترلاسه کړې دي.
په ۱۹۹۰ کې 1.95 ملیارده وګړو په سخته بې وزلۍ کې ژوند کاوه. په ۲۰۱۲ کې دا شمیر ډېر راټیټ شو او 896 ملیونه تنو ته رسیده.
په ۱۹۸۰ لسیزه کې نړیوال بانک او د پیسو نړیوال صندوق په بېوزلو هیوادونو کې د مسکینانو او بېوزلو وګړو لپاره اقتصادي سیاست په پام کې ونیوه.
د نړۍ مشران داسې ګڼي چې باید تر ۲۰۳۰ میلادي کال پورې په نړۍ کې د سختې بې وزلۍ کچه صفر ته راټیټه کړي. خو دا چې دا کار څرنګه ترسره کړي او بریالي به شي یا نه، دا به وخت ثابته کړي، خو لا تراوسه ډېرې پوښتنې بې ځوابه دي.
دا چې څاته بې وزلي یا فقیر ویل کیږي، نو ویلای شو چې هر هیواد پخپله د بې وزلۍ درجه او د فقر کرښه ټاکي، خو په عمومي توګه ویلای شو چې هغه وګړي چې پر ځمکه یا خړو خاورو ویده کیږي، خیټه یې وږې او د خوراک لپاره پوره خواړه نه لري، خپل کوچنیان د بې وزلۍ له امله ښوونځیو ته نه شي لیږلی، د پوښاک لپاره لازم لباس نلري نو بې وزلي وګړي بلل کیږي. په پرمختللو هیوادونو کې هم بې وزلي وګړي شته، خو هلته د بې وزلۍ کچه یا سطحه بل ډول سنجول کیږي.
که څه هم په تیرو دیرشو کلونو کې د چین هیواد اقتصادي پرمختګ ، په نړۍ کې د بې وزلۍ د فیصدي په راټیټولو کې ډیره مرسته کړې ده او د ۱۹۸۱ او ۲۰۱۱ کلونو ترمنځ چین د نړۍ په سلو کې ۷۰ د بېوزلي په کمولو کې اغیزمن تمام شوی دی.
د نړۍ په کومو ځایونو کې سخته بېوزلي شته او دوام لري؟
د نړیوال بانک د راپور پر بنسټ د افریقا د لویې صحرا جنوب کې استوګن وګړي په سخته بې وزلۍ کې ژوند کوي.
د ساري په توګه په مدغاسکر کې په سلو کې ۸۲، د کانګو په دموکراتیک جمهوریت کې په سلو کې ۷۷ او په بوروندی کې په سلو کې ۷۸ وګړي د بې وزلۍ په لوړه درجه کې راځي. همدارنګه د هندوستان په سلو کې ۲۱ تنه په مطلقه بې وزلۍ کې ژوند کوي.
له نیکه مرغه افغانستان د دغو ۱۵ هیوادونو په ګراف کې نشته، کوم چې په نړۍ کې د بېوزلۍ د زیات شمیر په لرلو سره ورځنۍ یادونه شوی ده او دلته یې نومونه، د ډیرو بېوزلو وګړو په لرلو سره په ترتیب سره یادوم:
هند د شاوخوا ۳۰۰ ملیونو بې وزلو وګړو په لرلو سره، نایجریا د ۱۰۷ ملیونو، چین د ۸۵ ملیونو، بنګله دیش شاوخوا د ۶۸ ملیونو، کانګو د ۵۹ ملیونو، اندونزیا د ۴۰ ملیونو، حبشه د ۳۴ ملیونو، پاکستان د ۲۳ ملیونو، تانزانیا د ۲۱ ملیونو، مدغاسکر د ۲۰ ملیونو، کینیا د ۱۹ ملیونو، فلیپین د ۱۸ ملیونو، موزمبیق د ۱۵ ملیونو، اوګاندا د ۱۴ ملیونو او مالاوي د شاو خوا ۱۱ ملیونو بې وزلو وګړو په لرلو سره یادولای شو.
پایله: د هر هیواد د پرمختیا لپاره د دولت او وګړو ترمنځ یو اغیزمن تړون ته اړتیا ده چې، دولت خپله دنده سمه ترسره کړي او وګړي خپل مکلفیتونه سم درک او ترسره کړي. تر څو همداسې یو ټولنیز قراداد او ولسي تړون د ملي ګټو، د هیواد د پرمختیا او د ولس د هوساینې سبب او وسیله شي.
له نیکه مرغه افغانستان د طبیعي زیرمو له امله یو ډېر شتمن هیواد دی، وګړو یې هم ښکیلاکګرو ځواکونو ته د دې اجازه نه ده ورکړې چې شتمنې یې غلا کړي، هر استعماري او یرغلګر پوځ ته یې سخته ماته ورکړې ده او د خپل


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

هیواد شتمني يي د هغوی له منګولو ژغورلی دي. په افغانستان کې بی وزلي شته، خو د ډیرو هیوادونه په پرتله سخته او زیاته نه ده.
که زموږ هیواد له جګړو وژغورل شي، عادل، کارا او پیاوړې نظام ولرو، دولتي واک لکه د تیر شل کلن دور په ځېږ یو ځل بیا په قومي، سیمه ییز او ژبني بنسټ ونه ویشل شي، هر وګړی ښځینه وي که نارینه کار، زده کړو او نورو ټولنیزو، اقتصادي او کلتوري فعالیتونو ته برابر لاسرسی ولري، له طبیعي زیرمو مو معقول کار واخیستل شي او سر تا سري متوازن خدمات ترسره شي، نو بی له شکه افغانستان به په خپل ځان بسیا، او یو با امنه هیواد وي. همدارنګه تاریخي افغان ملت به د نړۍ د سیالانو سره سیال، پر خپلو پښو ولاړ او یو هوسا ویاړلي ملت وي.

پوهنمل دکتوراندوس رحمت ځواکمن

هالنډ/ ۳- ۹- ۲۰۲۴

سرچینه: decorrespondent او نورې بیلابیلي انترنیتي پاڼي


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ